# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Human rights | حقوق بشر |
|---|---|


د افغانستان د زیارکښانو ټولنيز انجمن

۱۲ جنوری ۲۰۱۴

# د يکاولنګ د شهيدانو غچ

## يوازې د زیارکښانو د بيرحمه دښمنانو په څپلو سره اخيستل کيږي

د ۱۳۷۹ کال د جدی ۱۹ مه د زیارکښانو د ډله ايزه وژلو يوه غمژنه ورځ ده. په دې ورځ د باميان ولايت د يکاولنګ ولسوالی نژدې ۳۰۰ زیارکښه انسانان د بيرحمه طالبانو لخوا په بيرحمی ووژل شول. دې ناورين يوځل بيا وښودله چې د زیارکښو دهقانانو او کارګرانو دښمنان څومره بيرحمه او قسی القلب دي.

د افغانستان معاصر تاريخ د زیارکښانو په وينو سور دی. بيرحمه خلقيانو او پرچميانو زرګونه زیارکښان په بيلابيلو نومونو ووژل. همدا ډول د اسلامي دولت چارواکو چې په جهاديانو مشهور دي، يوازې په کابل ښار کې ۶۵ زره بی ګناه زیارکښان ووژل. لا د اسلامي دولت د وژلو لړی پای ته نه وه رسيدلی چې د امارت اسلامي چارواکو چې په طالبانو مشهور دي، د خلکو د وژلو لړی پيل کړه چې د يکاولنګ د بيوزلو ځوانانو وينه د همدې اسلامي امارت په واکمنی کې تويه شوه.

د دې تر څنګ بهرنی وحشي اوستمګرو ځواکونو هم د زیارکښانو له وژلو ډېره نه ده کړی. که روسي يرغلګرو په زرګونه افغانان ووژل او په ميليونونه زیارکښان يې مهاجرت ته اړ کړل، امريکايان هغه بيرحمه ستمګره وسله وال او ټوپکوال دي چې د زیارکښانو ټول دښمنان يې سره يوځای کړي او له هغوې سره يوځای افغان زیارکښه انسانان وژني.

مونږ د يکاولنګ د شهيدانو دیارلسم تلين په داسي حال کې لمانځو چې په افغانستان کې ستمګري او جنايت ادامه لري او هره ورځ بيوزله زیارکښان د امريکايانو په بمباری او د طالبانو په انتحار او د جهادي ټوپکمارو په جنسي تيري کې قرباني کيږي. مونږ په داسي حال کې د يکاولنګ د ګرانو شهيدانو پرتمين ياد لمانځو چې هره ورځ زیارکښان وژل کيږي او د دربدری ژوری دربيلي ته ولیږي. که له يوې خوا زیارکښان په وحشت او ځناورتوب سره وژل کيږي، له بلې خوا د زیارکښانو دښمنان په بيلابيلو ائتلافونو کې سره راټوليږي څو زیارکښان لا وداړي او خپلې ګټې خوندي کړي.

د افغانستان د زيارکښانو ټولنيز انجمن د دې تر څنګ چې د يکاولنګ د شهيدانو ياد په درنښت لمانځي او د دې شهيدانو کورنيو ته د زړه له کومې تسليت وايي، باور لري چې هماغه ډول چې د زيارکښانو دښمنانو د زيارکښانو په وړاندې مشترکه جبهه جوړه کړې ده او د دې جبهې د پياوړتيا په لټه کې دي، بايد زيارکښان هم د خپلو دښمنانو په وړاندې په يووالي او پيوستون عمل وکړي څو له بيلابيلو کړاونو او ستمونو څخه خلاصون ومومي .